**بسم الله الرحمن الرحیم**

# ځرنګه په سختیو کې په مېړانه وځلېږو؟



(ژباړه)

مېړانه د يو مسلمان خاصه ځانګړنه ده، چې د اسلام د بيا راژوندي کېدو لپاره مبارزه وکړي. که نوموړی د خلافت ملاتړی وي او يا د اردو صادق افسر، خو مسلمانانو ته نصرت ورکړي، چې يو ځل بيا د نبوت پر تګلاره خلافت تاسيس کړي؛ چې په هغه صورت کې د امت د عزت ساتنه د خلافت اړوند کېږي. مېړانه د هغو کسانو ستاينه او صفت دی چې قوي وي او له هېڅ حالت او خلکو وېره نه لري. د دغسې کسانو صفت دی چې نه کمزوی وي او نه بې وسه، د پانګې له لاسه ورکولو او يا د بدن د کوم غړي د پرېکېدو او حتی په حقه لاره کې د ژوند له لاسه ورکولو هم نه وېرېږي. له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَلاَ تَعْجِزْ فَإِنْ أَصَابَكَ شَىْءٌ فَلاَ تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ قَدَّرَ اللَّهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ فَإِنَّ "لَوْ" تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ»**

***ژباړه:*** *قوي او ځواکمن مومن الله سبحانه وتعالی ته تر کمزوري مومن محبوب دی، په داسې حال کې چې دواړه غوره دي او د هغه څه لپاره مبارزه وکړئ چې ګټه درته ولري. همدارنګه له الله سبحانه وتعالی مرسته وغواړئ او هېڅ وخت ناهيلي نه شئ. که له هرې ستونزې سره مخ شوئ، داسې ونه وايئ چې که مې دغه مبارزه نه وی کړې، داسې نه کېدل. الله سبحانه وتعالی چې څه حکم وکړي او وغواړي، همغه کېږي. په داسې ويناوو سره شيطاني کړنو ته لار پرانستل کېږي.*

دا ښکاره خبره ده چې مسلمانان د امت د اوسنيو حالاتونو لپاره ډېر غمجن دي؛ خو د دوی د مېړانې د نښتون له امله د ياد حالت د ښه والي لپاره د سختيو وس نه لري؛ نو هغوی يوازې د امت پر اوسنيو حالاتونو له بده مرغه ويلو ته دوام ورکوي او هېڅ داسې بنسټيز کار نه تر سره کوي چې ورته اړتيا ده. په داسې حال کې چې مېړني او غښتلي مسلمانان، کله يې چې امت ته پام کېږي، چې له يو کړکېچ سره مخ دی، هر ډول ستونزې په خوشحاله او له خندا ډکه څېره مني. هغوی ځواکمن وي، د هر ډول ستونزو پر وړاندې دغه دنده سرته رسوي. دا ټول په الله سبحانه وتعالی پورې اړه لري، چې له ډېرو هڅو وروسته څه وخت حل لاره پيدا کوي، ناهيلي کېږي نه، نقشه جوړوي، لاره په سختيو طی کوي او په مېړانه په

اوړده او له ګواښ ډکه لاره سفر کوي. همداسې دوام ورکوي او د ثابت کېدو لپاره يې هڅې کوي، چې د بدلون لپاره يوه ښه وسيله وي؛ نو هغوی به يې ډېر ژر خپلې موخې ته ورسېږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم په ښو صفتونو د بشريت لپاره، په هغې مېړانې چې د نوموړي په وينا او عمل کې وه، يو ښه مثال دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم د خلافت د هغو ملاتړو لپاره چې نن ورځ له ظالمو حکامو سره په مبارزه کې دي، يو ښه بېلګه دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم په مېړانه خلک په عام محضر او د قوم له مشرانو او نفوذ لرونکو کسانو سره راټولول، اړيکې يې ورسره نيولې او هغوی يې دعوتول. پر دې سربېره چې دغه کار يې تر شاه ډېره سخته پايله درلوده. له ابن جبيان او ابن خوزايمان څخه له طارق نه په نقل سره روايت دی:

*ژباړه: ما رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې حال کې چې سرې جامې يې پر تن وې، په زيل مجاز بازار کې وليل چې هلته يې خلکو ته ويل: «ای خلکو! ووايئ چې له الله سبحانه وتعالی پرته بل کس د عبادت وړ نه دی او تاسو به راستکاره او بريالي شئ.» په هغه وخت کې چې يوکس رسول الله صلی الله عليه وسلم يې څاره، دومره يې په تيږو وويشت چې له زنګنو او مبارکو پښو يې وينې روانې شوې. هغه کس خلکو ته ويل: «ای خلکو! هغه ته غوږ مه نيسئ، دروغ وايي. ما پوښتنه وکړه چې دغه کس څوک دی؟ وې ويل: د ابو طالب د ټبر يو ځوان دی. بيا مې پوښتنه وکړه چې هغه کس چې نوموړی څاري، څوک دی؟ وې وويل: ابو الزاه ـ ابولهب.*

حاکم په لمستدرک کې روايت کوي، چې اسناد يې موثق دي، د مسلمانانو د حالت اړوند د «النجس» له کتاب سره موافق دي چې انس رضی الله عنه فرمايي:

***ژباړه:*** *هغوی تر دې کچې رسول الله صلی الله عليه وسلم وواهه چې نوموړی بې هوښه شو، چې ابوبکر رضی الله عنه راغی او وې وويل: هلاک شئ، تاسو هغه کس وژنئ چې يوازې دا وايي چې الله سبحانه وتعالی زما خالق دی. هغوی وويل چې دا کس څوک دی؟ ځواب يې ورکړ چې دا د ابو قحافه زوی دی، ليونی سړی.*

د خلافت د ملاتړو لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم مېړانه، هڅې او وينه تويدنه ښه بېلګه ده؛ تر دې چې مشرکينو هوډ ونيو چې رسول لله صلی الله عليه وسلم شهيد کړي، چې دا ټولې هڅې ناکامې او بريا د اسلام په برخه شوه. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَـٰكِرِينَ)** [الانفال: ۳۰]

***ژباړه:*** *هغه وخت هم د يادونې وړ دی چې د حق منکرينو ستا پر وړاندې دسيسې جوړولې، چې بندي دې کړي؛ يا دې ووژني او يا دې له وطنه وشړي. هغوی خپل تدبيرونه په کار اچول او الله سبحانه وتعالی خپل تدبير کاوه. الله سبحانه وتعالی تر ټولو ښه تدبير کوونکی دی.*

د قريشو مشرکينو نقشه جوړه کړه، له ټولو ټبرونو (قبيلو) يې ځوانان وټاکل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم شهيد کړي، په دې صورت کې د بني هاشمو قبيله په يوازې توګه له ټولو قبايلو سره دښمني نه شي کړای، هغوی د ډېرې وينې تويېدو ته اړ کوو، وروسته هغوی ارامېږي او خپل مقام له ګواښ سره نه مخ کوي. پر دې سربېره چې يو ګواښونکی حالت و، رسول الله صلی الله عليه وسلم ارامه او په مېړانې په مدينه کې د اسلام د حاکمولو لپاره ټينګ ګام اخيستی و او تر هر څه وړاندې يې له انصارو نصرت تر لاسه کړی و. حضرت جبراييل عليه سلام راغی او رسول الله صلی الله عليه وسلم يې د هغوی له نقشې خبر کړ او امر يې ورته وکړ چې د خوب په بستره کې يې ويده نه شي. رسول الله صلی الله عليه وسلم په

هغه شپه پخپل کور کې ویده نه شو، الله سبحانه وتعالی نوموړي ته د مدینې پر لور د هجرت اجازه ورکړه او رسول الله صلی علیه وسلم دغه کار په ډېرې ارامۍ تر سره کړ. د هجرت په دوام کې کافرانو کابو نیولی و؛ خو د رسول الله صلی علیه وسلم مېړانه ښکاره ده. لکه څنګه چې ابوبکر رضی الله عنه فرمايي:

**«قُلْتُ قَدْ آنَ الرَّحِيلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «بَلَى «فَارْتَحَلْنَا وَالْقَوْمُ يَطْلُبُونَا، فَلَمْ يُدْرِكْنَا أَحَدٌ مِنْهُمْ غَيْرُ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ عَلَى فَرَسٍ لَهُ. فَقُلْتُ هَذَا الطَّلَبُ قَدْ لَحِقَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ: «لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا»**

***ژباړه:** ما وویل: اوس د تلو وخت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو، نو زه د خلکو له منځه بېړون ته ولاړم، قریش زموږ په لټه کې وو، خو هغوی زموږ په پیدا کېدو بریالي نه شول؛ له سراقه بن ملک بن جعشم پرته، چې پخپل اس یې سپور و. ما وویل: هغوی موږ څاري او موږ یې پیدا کړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: غمجن کېږه مه، ځکه چې الله سبحانه وتعالی له موږ سره دی.*

د اسلامي دولت تر تاسیس وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی مسولیت په مېړانې د مسلمانانو په منځ کې د وېرې او ډار کمېدل وو. انس رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي:

**«كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ، وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَانْطَلَقَ النَّاسُ قِبَلَ الصَّوْتِ، فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَدْ سَبَقَ النَّاسَ إِلَى الصَّوْتِ وَهْوَ يَقُولُ «لَنْ تُرَاعُوا، لَنْ تُرَاعُوا»**

***ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ په منځ کې هم په سیرت او هم په صورت کې غوره و، زموږ په منځ کې مېړنی او زړه ور و. یو ځل په شپه کې د مدینې خلک له یو غږ څخه وېرېدلي وو، خلک ټول د چیغې لور ته ولاړل، په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له ټولو وړاندې هلته تللی و او خلکو ته یې ویل: ونه وېرېږئ، ونه وېرېږئ.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم د صادقو افسرانو لپاره تر ټولو غوره بېلګه دی، څرنګه چې هیله کېږي؛ په داسې حال کې چې ظالم حکام د خپل ظالمانه حاکمیت له لاسه ورکولو له وېرې څخه هغوی ته رشوت ورکوي، چې د هغوی پر وړاندې قیام ونه کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم مېړنی و؛ تر دې چې د کفارو توري چې کله نوموړی موخه ګرځولی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم بې وسلې و. له صحابه رضی الله عنهم اجمعین څخه روایت دی چې:

**«كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بِذَاتِ الرِّقَاعِ، فَإِذَا أَتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَسَيْفُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مُعَلَّقٌ بِالشَّجَرَةِ فَاخْتَرَطَهُ فَقَالَ تَخَافُنِي قَالَ "لاَ" قَالَ فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ "اللَّهُ" فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم»** (رواه بخاري)

**ژباړه:** *موږ د رقاع په جګړه کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای وو، د یوې ونې سیوري ته ورسېدو او هغه ځای مو د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره چمتو کړ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته ارام وکړي؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویده شوی و، توره یې په ونه کې ځړېده، یو څارونکي یې توره له چړتونه ویستله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل: له ما نه وېرېږې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه، هغه کس وویل: تا له ما څوک ژغوري؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله سبحانه وتعالی.*

دغه شرحه د جابر رضی الله عنه په واسطه په ریاض صالحین کې راغلي ده، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مېړانه د دې لامل شوه چې هغه مشرک خپله توره پر ځمکه وغورځوي. لوړپوړو افسرانو او هغه جنرالان چې عمر یې ډېر دی، هغوی ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه بېلګه رااخلو. د حنین په

جګړه کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر له ۶۰ کلونو اوښتی و، ګډون کړی و. همدارنګه روایت دی:

**«فَأَقْبَلَ الْقَوْمُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ يَقُودُ بِهِ بَغْلَتَهُ فَنَزَلَ وَدَعَا وَاسْتَنْصَرَ وَهُوَ يَقُولُ «أَنَا النَّبِيُّ لاَ كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ اللَّهُمَّ نَزِّلْ نَصْرَكَ». قَالَ الْبَرَاءُ كُنَّا وَاللَّهِ إِذَا احْمَرَّ الْبَأْسُ نَتَّقِي بِهِ وَإِنَّ الشُّجَاعَ مِنَّا لَلَّذِي يُحَاذِي بِهِ يَعْنِي النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم»** (رواه مسلم)

***ژباړه:*** *خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ته راغلل، په داسې حال کې چې د نوموړي قاطر ابوسفیان رهبري کاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم له قاطر څخه کښته شو او له الله سبحانه وتعالی یې مرسته وغوښته. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه پیغمبر یم، دا یو حقیقت دی، زه د عبد المطلب زوی یم، ای الله سبحانه وتعالی! مرسته راسره وکړه. بړ دې سربېره یې زیاته کړه: کله چې جګړه سخته شوه، په الله سبحانه وتعالی قسم چې موږ ټولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په واسطه ساتنه کوله. هغه زموږ په منځ کې مېړنی و چې د هغه شدید برید پر وړاندې یې مبارزه وکړه.*

**تاسو ای د خلافت ملاتړو او د اردو مخلصو افسرانو!** رسول الله صلی الله علیه وسلم په نړۍ کې زموږ لپاره یوه غوره الګو او یوازنی بېلګه دی او غوره مرسته کوونکی، چې تر وروستیو یې په لټه کې یو. باید پام وکړو، کوم کسان چې مېړني وو، اوس ډارېږي او مېړانه یې له لاسه ورکړې ده. راځئ ډاډه شو، که څوک ډارن وو، کېدایشي اوس یې خپله مېړانه پیدا کړې وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ»** (رواه بخاری)

***ژباړه:*** *یو کس شاید د دوزخیانو عملونه تر سره کړي؛ په داسې حال کې چې نوموړی جنتي دی. یو کس به د جنتیانو عملونه تر سره کړي، په داسې حال کې چې دوزخي به وي. په حقیقت کې زموږ د ټولو عملونو ثواب زموږ له وروستي عمله راکول کېږي.*

**مېړنیو ورونو!** په مېړانه پاڅېږئ چې اوس مو وخت دی.

**لیکوال: مسعود او میر**
**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**
**۱۴۳۸هـ.ق، د رمضان ۱۱مه**
**۲۰۱۷ م، د مارچ ۸ مه**